**د واکسینو معلوماتي بیانیه**

# د چیچک/د بیزو د شري واکسین (JYNNEOS™): هغه څه چې تاسو یې په اړه باید پوه شئ

Many Vaccine Information Statements are available in Pashto and other languages. See www.immunize.org/vis

د واکسین معلوماتو ډېری بیانیې په پښتو او نورو ژبو موجود دي. وګورئ www.immunize.org/vis

## 1. ولې باید واکسین وکړو؟

**د چیچک/د بیزو د شري واکسین** (JYNNEOS™) کولی شي د چیچک د ناروغۍ، د بیزو د شري او نورو ورته ناروغیو څخه په خوندیتوب کې مرسته وکړي چې د اورتوپوکس ویروس له امله رامینځته کیږي، په کومو کې چې د واکسینیا ویروس هم شامل دي.

د چیچک ناروغي یوه ډېره جدي ناروغي ده چې د ویرولا ویروس له امله رامنځته کیږي. ځینې کسان په دغه ویروس باندې د اخته کېدو خطر ته دوام ورکوي چې پایله کې د چیچک د ناروغۍ لامل کیږي، په دې ډله کې هغه کسان چې په بیړني چمتووالي کې کار کوي او د لابراتوار ځیني کارکوونکي شامل دي. یاد ویروس له یو شخص څخه بل شخص ته خپریږي، د تبې او د پوستکي د خارښت په ګډون ځیني علایم رامنځته کوي. زیاتره هغه کسان خلک چې په تیرو وختونو کې د چیچک له ناروغۍ څخه روغ شوي وي، بیا هم د هرو 10 کسانو څخه نږدې 3 یې په دې ناروغۍ اخته شوي دي.

د بیزو شری یوه نادره ناروغي ده چې نښې یې د چیچک ناروغۍ ته ورته دي خو د هغې په پرتله یې نښې کمې وي. په هر حال، د بیزو د شري ناروغي کولی شي د مړیني لامل شي. د بیزو شری په افریقا لویه وچه کې یو راپورته کېدونکی مکروب دی او کله ناکله د متحده ایالاتو په ګډون په نورو هیوادونو کې د بیزو د شري د ناروغۍ راوړل شوې پیښې رامنځته کیږي.

د واکسینیا ویروس هم هغه مهال کولی شي د ناروغۍ لامل شي کله چې یو څوک په ناروغۍ له کسانو سره مخ کیږي (لکه د هغه چا سره چې په دې وروستیو کې د ACAM2000® سره واکسین شوي وي، یا یې د بل ډول شري واکسین کړي وي) یا هم له څارویو سره مخ شي. هغه کسان چې په لابراتوارونو کې د ویروس په واکسینو کې کار کوي په تصادفي ډول له اړونده ویروس سره مخ کېدلی شي، او که چیرې دوی په ناروغۍ اخته شي نو ناروغ کېدلی هم شي. په هر حال، د واکسینیا ویروس زیاتره ککړتیاوې پرته له درملنې په خپله له منځه ځي.

## 2. د چیچک/د بیزو د شري واکسین (JYNNEOS™)

د چیچک/د بیزو د شري واکسین (JYNNEOS™) د کمزوریو ژوندیو واکسینو په کارولو سره جوړ شوی او نه شي کولی چې د چیچک، د بیزو د شري، یا کومې بلې ساري ناروغۍ لامل شي.

JYNNEOS™ په خپله د خوړو او درملو د اداري (Food and Drug Administration, FDA) له لوري په **لویانو کې چې 18 کلن او یا تر هغه زیات عمر لرونکي وي د چیچک د ناروغۍ یا بیزو د شري د ککړتیا له مخې له لوړ خطر څخه د مخنیوي لپاره تصویب شوی دی.**

- CDC د لابراتوار اړوند د ځینو کارکوونکو او د بیړني غبرګون د کاري ډلې د غړو لپاره JYNNEOS™ واکسین د ترسره کولو وړاندیز کوي چې کولی شي له داسې ویروسونو سره مخ شي چې د اورتوپوکس ویروس په ناروغۍ باندې د ککړتیا لامل کیږي.
- CDC د هغو کسانو لپاره واکسین په پام کې نیولو وړاندیز کوي چې ACAM2000® واکسین خلکو ته ورکوي، یا هغه کسان چې په اورتوپوکس ویروس د اخته ناروغانو پاملرنه کوي.

JYNNEOS™ واکسین زیاتره د 2 دانو ستنو د دورې په توګه، ترمنځ یې د 4 اوونیو مودې په توپیر سره ترسره کیږي. هغه کسان چې په تیرو وختونو کې یې د چیچک واکسین ترسره کړي وي ښایي یوازې د یاد واکسین 1 دورې ته اړتیا ولري.

هغو ته په هرو 2 یا 10 کلونو کې د تقویتي واکسینو د ترسره کولو سپارښتنه کیږي که چیرې یو څوک د چیچک، د بیزو د شري، یا نورو اورتوپوکس ویروسونو سره د اخته کېدو په دوامداره خطر کې پاتې کیږي. ستاسو روغتیاپال کولی شي په دې اړه تاسو ته ډېر معلومات درکړي.

## 3. له خپل روغتیاپال سره خبرې وکړئ

د واکسینو چمتو کوونکي ته خبر ورکړئ که چیرې د واکسینو ترسره کوونکي شخص ته:

- **د چیچک واکسینو کولو د وروستیې دورې له امله حساسیتي غبرګون پیدا شوی وي**، یا د **د ژوند ګواښوونکی حساسیت ورته پیدا شوی وي**
- د بدن دفاعي **سیستم یې کمزوری وي**
- امیندواره وي یا فکر کوي چې دوی ښایي **امیندواره شي** یا هم خپلې **شیدې ماشوم ته ورکوي**

په ځینو حالاتو کې، ستاسو د روغتیا پال چمتو کوونکی ښایي پریکړه وکړي چې د JYNNEOS™ واکسین اړوند تر راتلونکي لیدنې (له ویروس سره د مخ کېدو) پورې د چیچک/د بیزو د شري واکسین وځنډوي.

د زکام په څېر د کوچنیو ناروغیو لرونکي خلک هم کولی شي واکسین وکړئ. هغه کسان چې په منځني ډول یا سخت ناروغه وي زیاتره د JYNNEOS™ واکسین (له ککړېدو مخکې) دورې د ترلاسه کولو څخه مخکې تر رغیدو پورې انتظار باسي. **که تاسو ته د بیزو د شري په ویروس باندې د اخته کېدو له امله د JYNNEOS™ د واکسینو د ترسره کولو سپارښتنه شوې وي، تاسو باید واکسین وکړئ پرته له دې چې د ورته ناروغیو، امیندوارۍ، ماشوم ته د شیدو ورکولو، یا د بدن د دفاعي سیستم کمزورتیا په پام کې ونیسئ.**

U.S. Department of Health and Human Services
Centers for Disease Control and Prevention

JYNNEOS™ کېدای شي په عمومي ډول د نورو واکسینونو د وخت په پام کې نیولو پرته ترسره شي. په هر حال، ځینې کسان چې د مایوکارډیټس (د زړه د عضلاتو پړسوب) په نوم د یوې ستونزې د زیاتوالي خطر لري، چې په دې کې د ځوانو یا ځوانو نارینه وو په ګډون، شاید د کوویډ-19 واکسینونو له ترلاسه کولو څخه مخکې د JYNNEOS™ واکسینو له ترلاسه کولو څخه 4 اوونۍ انتظار ته پام وکړي. **که تاسو ته د بیزو د شري په ویروس باني د اخته کیدو له امله د JYNNEOS™ واکسینو د ترلاسه کولو وړاندیز شوی وي، تاسو باید واکسین وکړئ حتی که په وروستیو کې مو د کوویډ-19 واکسین هم ترلاسه کړی وي.**

## 4. د واکسین پر وړاندې د غبرګون خطرونه

- په بدن کې د واکسین د لګولو په ناحیه کې سوروالی، درد، پړسوب او خارښت هغه معمولي ستونزې دي چې د JYNNEOS™ واکسینو له ترسره کولو وروسته رامنځته کیږي.
- سترړیا (ناآرامي)، سرخوږی، او د عضلاتو درد هم کله ناکله د JYNNEOS™ واکسینو له ترسره کولو وروسته رامنځته کیږي.

خلک ځیني وختونه د واکسینو په ګډون له ځینو روغتیایي کړنلارو وروسته بې هوښه کیږي. که په تاسو سرګرځېدلی وي، یا مو په لیدو کې بدلون راغلی وي یا مو په غوږ کې زنګاری وي، په اړه یې خپل روغتیاپال ته ووایاست.

لکه د نورو درملو په څېر، واکسین هم په ډېر نادره توګه له سخت حساسیت، نورو جدي ټپونو، یا مړینې سبب ګرځېدای شي.

تاسو کولی شئ د خپل ځیرک موبایل په کارولو او [vsafe.cdc.gov](https://vsafe.cdc.gov) پاڼي څخه د لیدو له لارې د JYNNEOS™ واکسینو د هرې دورې له ترلاسه کولو وروسته په V-safe کې نوم لیکنه وکړئ. V-safe د خوندیتوب څارنې یو سیستم دی چې تاسو ته اجازه درکوي ترڅو له CDC سره هغه څه شریک کړئ چې تاسو، یا ستاسو پورې تړلې، یو څوک یې د JYNNEOS™ واکسینو له ترلاسه کولو وروسته احساس کوي. د نورو معلوماتو لپاره له دې پاڼې لیدنه وکړئ [www.cdc.gov/vsafe](https://www.cdc.gov/vsafe).

## 5. څه به کیږي که چیرې کومه جدي ستونزه شتون ولري؟

یو حساسیتي غبرګون کېدای شي هغه مهال رامنځته شي چې کله واکسین شوی کس له کلینیک څخه ووځي. که تاسو د جدي غبرګون نښې لکه (ټپونه، د مخ او ستوني پړسوب، تنفسي ستونزې، د زړه چټک ضربان، سترړیا، یا کمزوري) ولیدلې نو، **9-1-1** شمېرې ته زنګ ووهئ او اړونده شخص تر ټولو نږدې روغتون ته انتقال کړئ.

د نورو هغو علایمو لپاره چې تاسو یې په اړه اندیښنه لرئ، خپل د روغتیایي پاملرنې چمتو کوونکي ته زنګ ووهئ.

د ضرري غبرګونونو په هکله باید د ضرري پېښو د راپور سیستم (Vaccine Adverse Event Reporting System, VAERS) ته راپور ورکړل شي. ستاسو روغتیاپال زیاتره دا ډول راپورونه ثبتوي، یا تاسو خپله باید دا کار وکړئ. له VAERS ویب سایټ څخه په دې پته لیدنه وکړئ [www.vaers.hhs.gov](https://www.vaers.hhs.gov) یا دې شمېرې ته زنګ ووهئ **1-800-822-7967**. *VAERS یوازې د غبرګون په اړه د راپور ورکولو لپاره دی، او د VAERS کارکوونکي روغتیایي مشورې نه ورکوي.*

## 6. د متقابل عمل اړوند د زیانونو د جبران برنامه

د متقابل عمل اړوند د زیانونو د جبران برنامه (Countermeasures Injury Compensation Program) یوه فدرالي برنامه ده چې کولی شي د روغتیایي پاملرنې د لګښتونو او د ځینو ځانګړو کسانو د نورو ځانګړو لګښتونو په تادیه کولو کې مرسته وکړي چې د ځانګړو درملو یا واکسینونو له امله سخت ټپي شوي وي. که تاسو د چیچک/د بیزو د شري د واکسین له امله زیان لیدلی وي، نو کولی شئ د یادې برنامې په اړه نور معلومات د برنامې ویب پاڼې ته ورشئ [www.hrsa.gov/cicp](https://www.hrsa.gov/cicp)، یا **1-855-266-2427 (855-266-CICP) شمېرې ته زنګ ووهئ.**

## 7. څرنګه کولی شم نور معلومات لاسته راوړم؟

- له خپل روغتیاپال څخه پوښتنې وکړئ.
- خپلې ځایي یا ایالتي روغتیایي څانګې ته زنګ ووهئ.
- د واکسینو په اړه د معلوماتي پاڼې او نورو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د [www.fda.gov/vaccines-blood-biologics/vaccines](https://www.fda.gov/vaccines-blood-biologics/vaccines) له لارې د خوړو او درملو ادارې (FDA) ویب پاڼې ته ورشئ.
- د ناروغیو د کنټرول او مخنیوي مرکز (Centers for Disease Control and Prevention, CDC) سره په اړیکه کې شئ:
  - د **1-800-232-4636 (1-800-CDC-INFO)** شمېرې ته زنګ ووهئ یاهم
  - د CDC له دغې ویب پاڼې لیدنه وکړئ [www.cdc.gov/poxvirus/monkeypox](https://www.cdc.gov/poxvirus/monkeypox).

Pashto translation provided by Immunize.org